تا ته د دوو رښاګانو زېږی دی چې در کړل شوي، پداسې حال کې ستا څخه وړاندې هېڅ نبي ته نه دې ورکړل شوي: فاتحة الکتاب (فاتحه سورت) او د البقرې سورت وروستي آیتونه دي چې تاته به د دې د هر یو حرف په ویلو سره درکول کېږي

له ابن عباس رضي الله عنهما څخه روایت دی وایي چې: «په داسې حال کې چې جبرائیل علیه السلام د نبي سره ناست و چې له پاسه یې یو غږ واورېد، نو سر یې پورته کړ او ویې ویل: دا د اسمان یوه دروازه ده چې نن خلاصه شوه، تر دې مخکې هېڅکله نه وه خلاصه شوې، له هغې څخه یوه ملایکه راکوزه شوه، ویې ویل: دا هغه ملایکه ده چې نن ځمکې ته راکښته شوه، تر دې مخکې هېڅکله نه وه راښکته شوې، نو سلام یې وکړ او ویې ویل: تا ته د دوو رښاګانو زېږی دی چې در کړل شوي، پداسې حال کې ستا څخه وړاندې هېڅ نبي ته نه دې ورکړل شوي: فاتحة الکتاب (فاتحه سورت) او د البقرې سورت وروستي آیتونه دي چې تاته به د دې د هر یو حرف په ویلو سره درکول کېږي.»

[صحیح دی] [مسلم روایت کړی دی]

جبرائیل علیه السلام د نبي تر څنګ ناست و، نو له اسمانه یې داسې غږ واورېد لکه د دروازې د پرانیستل کېدو، بیا یې سر پورته کړ او اسمان ته یې وکتل، بیا نبي وویل چې دا د اسمان یوه دروازه ده چې نن پرانیستل شوه، مخکې لدې هېڅکله نه وه پرانیستل شوې، له هغې څخه یوه ملایکه ځمکې ته راکښته شوه چې تر دې مخکې هېڅکله نه وه راغلې، هغې ملایکې په نبي صلی الله علیه وسلم سلام واچاوه او ورته یې وویل: تاته دې د دوو رښا ګانو زېږی مبارک وي، چې تر تا مخکې هېڅ نبي ته نه دي ورکړل شوي؛ هغه دواړه: سورت الفاتحة او بل د سورة البقرې وروستي دوه آیتونه دي. بیا ملایکې وویل: هېڅوک له دې دواړو څخه یو حرف نه لولي مګر دا چې الله تعالی به پرې ورته هغه خبر دعا او غوښتنه ورکوي چې پدې کې دي.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/5775